

مجله صدای طالبان 07

صدای طالبان

اووم ټوک





- د پاکستان لپاره د تحریک طالبان پاکستان رسمي دریځ : له انډس انلایسټ اداري سره د تحریک طالبان پاکستان د ویاند محمد خراساني ځانګړې مرکه
- د رمضان المبارک د میاشتې فضایل او مسائل
- غزه؛ د قربانی او شجاعت یو لامثاله انځور
- د فتحې او بریا طلایي راز

SHABAN/1446
FEBRUARY/2025



https://umnews.net



فهرست

سرمقاله

زموږ د دښمن متکبرانه چلن



په تېرو څو ورځو کې د لکي مروت د پېښې اړوند خپاره شوي راپورونه به مو لیدلي وي، چېرې چې د اټومي انرژۍ کمېسیون کارکوونکي د مجاهدینو لخوا ونیول شول. دې پېښې ته د تحریک طالبان پاکستان له لوري روښانه دریځ وړاندې شو، چې د ملت سره د سولې او ورورولۍ پر بنسټ ولاړ و. خو برعکس، د پاکستان پوځ او هغه پاټهشوني عناصر چې د غرب د غلامۍ زنجیرونه یې په غاړه دي، لا هم خپلې بېپرواهۍ ته دوام ورکوي.

کله دوی هڅه کوي چې بندیان د عملیاتو په نوم ووژني او کله بیا پر هغوی وحشیانه بمباري کوي، ترڅو نړۍ ته داسې وښیي چې دوی "کامیابه" دي. که څوک غواړي حقیقت درک کړي، نو لکي مروت ته دې ولاړ شي او له نږدې دې حقیقت وګوري.

سربېره پر دې، پوځ اوس یو ځل بیا هڅه کوي چې د "امن لښکر" یا "امن کمیټې" په نوم ملیشې جوړې کړي. دا له یوې خوا د پوځ کمزوري ثابتوي، چې د 90٪ بودیجې مصرفولو باوجود د کمو وسائلو لرونکو مجاهدینو په وړاندې شاتګ ته اړ شوی. له بلې خوا، ملت ته دا غلط پیغام ورکول کېږي چې ګواکې مجاهدین د ملت دښمنان دي. خو حقیقت دا دی چې مجاهدین د همدې ملت د ازادۍ لپاره جنګېږي. د تحریک طالبان پاکستان مشرتابه څو ځله خلکو ته خبرداری ورکړی چې د پوځ د دا ډول سازشونو ښکار نه شي. پوځ غواړي جګړه هم وي او د دوی عیاشۍ هم دوام وکړي، نو ځکه د ملي لښکر جوړول یوه غوره حربه بولي.

بله مهمه موضوع د افغانستان او پاکستان د اړیکو اړوند ده. د پوځ او د بهرنیو چارو وزارت دا دعوې، چې "ترهګر د افغانستان څخه راغلي او د دوی سره امریکایي وسله وه"، له واقعیت سره اړخ نه لګوي. که خبره دا وي، نو بیا د رهبري شورا د غړي مولانا طه رحمه الله، د خیبر ولایت د والي قاري اسماعیل رحمه الله، د ملاکنډ ولایت د والي د مرستیال استاد قریشي رحمه الله او د ډېره اسماعیل خان ولایت د والي ثاقب ګنډاپور شهادتونه، ورځني ډرون بریدونه، د لسګونو مجاهدینو نیول کېدل او هدفي بریدونه څه معنی لري؟ آیا دا نه ښیي چې مجاهدین د همدې خاورې بچیان دي او د خپل حق لپاره مبارزه کوي؟

د رمضان المبارک د میاشتې فضایل او مسائل

لیکوال: مفتي بشیر احمد حنفي

د رمضان المبارک میاشت، د ټولو میاشتو تر ټولو غوره او د برکاتو ډکه میاشت ده، او اللّٰه سبحانه وتعالی دې میاشتې ته ډېر فضایل ورکړي دي، په دې میاشت کې یې اجرونه څو چنده کړي، او بندګانو ته یې محبوبه ګرځولې ده،د نړۍ مسلمانان د دې میاشتې په راتګ د خوشحالۍ اظهار کوي.

د رمضان المبارک روژه د اسلام له ارکانو څخه یو رکن دی، او پر مسلمانانو فرض ده.

د رمضان المبارک میاشت د قرآن میاشت هم بلل کېږي، ځکه چې په همدې میاشت کې زموږ پر خوږ نبي کریم حضرت محمد ص قرآن نازل شو.

نبي کریم ص به په رمضان المبارک کې له جبرائیل علیه السلام سره قرآن کریم تکراراوه.

دې میاشتې ته د "قیام میاشت" هم ویل کېږي، ځکه چې د دې میاشتې په مبارکو شپو کې د تراویح او تهجد لمونځونه ډېر ادا کېږي.

د رمضان المبارک په میاشت کې مهم عبادات:

که څه هم مسلمانان د رمضان المبارک په میاشت کې د اللّٰه تعالی رضا او قرب غواړي، نو لاندې اهم عبادات دي چې په دې مبارکه میاشت کې په دوامداره توګه ترسره کړي.

1/ لمونځ پر خپل وخت په جماعت سره په مسجد کې ترسره کول.

2/ د قرآن کریم زیات تلاوت کول او په هغه کې فکر او تدبر کول.

3/ روژه داره خلکو ته په روژماتي اوبه یا خوراک ورکول.

4/ مسکینانو او بېوزلو ته صدقه ورکول، ځکه چې دوی په رمضان المبارک کې ډېرې اړتیاوې لري.

5/ د شپې لمونځ (تراویح او تهجد) ادا کول، او د رمضان په وروستیو لسو شپو کې په اعتکاف کې کېدون کول.

6/ د اللّٰه جل جلاله په ذکر ژبه لمده او جاري ساتل، د نفلي لمونځونو زیاتوالی، او د لمانځه د دعاوو غوښتلو خاص اهتمام کول.



د رمضان د میاشتې فضیلتونه:

رمضان المبارک میاشت کې ډیر فضیلتونه لري، چې ځینې یې دا دي:

د ګناهونو بخښنه: قال صلی اللّه علیه وسلم: (مَن صامَ رمضان إيمانًا واحتسابًا، غُفر لَه ما تقدّمَ من ذنبه، ومَن قامَ ليلةَ القدرِ إيمانًا واحتِسابًا غُفِر لَه ما تقدّمَ من ذنبِه).

رسول اللّه ﷺ فرمایل: "چا چې د ایمان او ثواب د امید سره روژه ونیوله، د هغه د تیرو ګناهونو بخښنه کیږي، او چا چې د قدر شپه د ایمان او ثواب د امید سره قیام وکړ، د هغه د تیرو ګناهونو بخښنه کیږي". (بخاري او مسلم)

مراقبت او تقوی کول:

د رمضان المبارک د روژې اساسي هدف تقوا او د اللّه تعالی مراقبت احساسول دی، چې انسان د اللّه سبحانه وتعالی د اطاعت او اخلاص لوري ته هڅوي، له ګناهونو یې ساتي، او د بدیو څخه یې ژغوري.

دخول جنت د "ریان" له دروازې څخه:

د قیامت په ورځ به یوه ځانګړې دروازه وي چې ریان نومیږي، او یوازې روژه داران به ترې جنت ته داخلیږي.

د ستر اجر ترلاسه کول:

اللّه عزوجل د روژې مبارکې میاشتې د اجر ضمانت کړی، او فرمایلي یې دي: "د آدم د زوی هر عمل د ده لپاره دی، پرته له روژې، ځکه چې دا زما لپاره ده، او زه یې اجر ورکوم". (بخاري او مسلم)

د لیلة القدر د شپې فضیلت:

دا شپه تر ټولو شپو غوره شپه ده، او اللّه تعالی یې د عبادت ثواب د زر میاشتو (83 کاله او 4 میاشتې) عبادت سره برابر کړځولی، اللّه تعالی فرمایي: "لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ. (القدر: 3)

د دعا قبلیدل:

رمضان المبارک یوله هغو بختورو وختونو څخه دی چې د دعاګانو د قبلیدو ستر فرصتونه لري، نو مسلمان باید له دې موقعې ګټه واخلي او ډېر دعاوې وکړي.

د روژې د میاشتې مسائل:

1ــ د تراویح د لمونځ:

د رمضان المبارک په میاشت کې د فرض لمانځه وروسته شل رکعته لمونځ په جماعت سره ادا کول سنت مؤکده دی، او دا لمونځ تراویح بلل کیږي.

ختم القرآن و أخذ الأجرة علیه

تر ټولو غوره خبره دا چې په تراویح کې باید ختم د قرآن وشي، او کم خلک چې د پوره قرآن کریم د ختم توان نه لري، مثلا ضعیف وي، یا مریض وي، یا بل شرعي عذر وي، نو بیا (ألم ترکیف) تراویح مسنون دي.

او بله مهمه مسئله دا چې په تراویحو کې پر ختم قرآن أجرت اخیستل د جمهورو علماوو په نزد جواز نه لري.

او د ختم قرآن پر وخت خواږه خیراتول، یا چای پارټي جوړول، دا هم کم شرعي اړخ نه لري، بلکې عرفاً یا رواجاً کیدلای شي.



SADA E TALIBAN
MAGAZINE Pashto
مجله صدای طالبان 07



د موجوده جمهوري نظام د نیمګړتیا له لیدو او وربانديې د پرېمانه نیوکو سره سره له اسلامي نظام لرې والی ولې دی؟

لیکوال: سیف اللّٰه فقیر

دا خبره ټولو ته روښانه ده، چې د پاکستان هر وګړی د پاکستان له اوسني وضیعت څخه ناخوښ دی، هر چا په لاشعوري توګه د پاکستان له اوسني حکومت سره د نفرت سیاست خپل کړی دی، هیڅ شک نشته چې نن ورځ هر عادي پاکستاني د هېواد د اوسني وضعیت نه ستړی او د خپل ژوند شرایطو نه ناراض دی. د هغه په زړه کې د پاکستان پر حاکم نظام باندې د بغاوت او د حکومت، پوځ، عدلې او بوروکریسي ظلمونو په وړاندې نفرت پروت دی.

داچې په ښکاره د څه ویلو جرائت نلري؛ دلیل یې دا دی چې د پاکستاني استخباراتي خفیه ادارو له ټارګیټ کولو، وژنو، په جبري توګه تښتولو او نورو ډول ډول شکنجو او نامعلومو برخلیکونو څخه په ویره کې دی، همدا وجه ده چې د حکومت هر ډول ظلمونو ته یې غاړه ایښې ده.

ټول په دې پوهیږي چې یوازې د سیاستوالو یا هم په ادارو کې ښکېل وګړي د اوسني حکومت له کارکردګۍ څخه خوښ دي.

هغه وګړي چې د آرام ژوند په لټه کې دي، مجبور دي چې اروپايي هېوادونو ته د تېښتې لپاره د سمندرڅپو ته ځانونه وسپاري، مګر د حاکمې طبقې وګړي په عادي توګه له خپل ژوند څخه خوښ او خوشاله او د عیاشۍ او عریانۍ ژوند تېروي.

زه د پاکستان له پوهانو، متخصصینو، علماؤو، قومي مخورو او د آزادۍ لپاره د هر نعره وهونکي څخه دا پوښتنه لرم:

که دوی د دې فاسد نظام د مخالفت لپاره بدیل لټوي، نو دوی ولې د اسلامي نظام د قیام لپاره د مجاهدینو ملاتړ نه کوي؟

په داسې حال کې چې دوی هم په دې باور دي چې د پاکستان د اوسنیو ستونزو حل د جمهوریت کار نه دی، بلکې دا یوازې د یوه سوچه اسلامي نظام ذمه داري ده.

مګر بیا هم دوی د دې نظام سره په ډېره کچه د توافق رایه کاروي، د بېلګې په ډول به ځینې موارد راوړو، چې یوازې مجاهدین نه، بلکې د ټولنې د هرې طبقې وګړی د دې نظام سره مخالفت لري.

د پاکستان مشهور ساینسپوه او لیکوال ډاکټر عطاء الرحمن د ډسمبر په 12مه نېټه د تیکنوکریټ ډیموکراسۍ اړتیا تر عنوان لاندې په یوه مقاله کې لیکي:

د ډېرو ډيموکراتيکو حکومتونو نيتونه په حکومتي تړونونو کې د اتومي انرژۍ په نړيوالو پروژو کې بربنډ شول، هغه دا چې ټول غواړي ولس بې وسه او صنعت يو قطبي کړي، د دې ستونزو يوازينی‌حل لاره په اوسنيو سياستونو کې د يوه انقلابي بدلون پيښېدل دي، د علم او پوهې په اوسنۍ نړۍ کې د حکومتي سياست ځای بايد معياري پوهه، ساينس، ټکنالوژي او مثبت نوښت ونيسي، مونږ دمګړۍ د لوړ بصيرت او مؤمنو تخنيکي ماهرينو څخه جوړ حکومت ته اړتيا لرو، دوی به دا توانايي ولري چې په ادارو کې د فساد کچه صفر ته راښکته کړي، ځکه دوی به د سياسي اړيکو پر ځای د وړتيا په اساس ماهرين ټاکي، په تخنيکي پوهه پوښلی حکومت دا ظرفيت لري چې د پېچلو مسايلو لپاره واضحه حل لاره غوره کړي.

د همدې مياشتې په 5مه نېټه د يوه متقاعد قاضي شاهد جميل لخوا د جنګ ورځپاڼې په يوه کښه کې د حکومتي لوړپوړو غير شرعي کړنې واضح شوې، قاضي شاهد جميل ليکي، ما د خپل ضمير په غوښتنه استعفا وړاندې کړه، ځکه د دندې په جريان کې مې غير قانوني کړنې نشوای زغملای.

ښاغلی شاهد ليکي: زده کړه، د کور جوړونې سيستم، روغتيايي خدمات وړاندې کول د يوه حکومت بنسټيزې دندې تشکيلوي، مګر دا چاره خصوصي سکټور ته سپارل شوې، په داسې حال کې چې د دې برخې د اختلاس په پايله کې ځينې مفسد چارواکي په يوه ورځ کې ميلياردران شوي، دا شتمني ترلاسه کول پرته له قانون ماتونې امکان نلري، ما په دې درېيو برخو کې د مسؤلو چارواکو تر غوږونو د ولس غږ رسولی، مګر بغير د ځان تر ستړيا يې بله هيڅ ګټه نه کوله، ځکه قانون خپله د حکومت د مقننه قوې لخوا نقض کېږي.

له پورتنيو وضاحتونو سره سره مونږ د پاکستان د هرې برخې ماهرينو او متخصصينو ته دا پوښتنه مخته ږدو:

له حاکم تش په نامه ډيموکراتيک نظام د فساد له ليدو او وربانډې د پرېمانه نيوکو او نقدونو سره سره بيا هم د اسلامي نظام مخالفت او نه منل په کومه مانا؟

د پاکستان شريف ولسونه بايد په دې باوري شي، چې د ټولنې روښانه راتلونکې يوازې يو سوچه اسلامي نظام تضمينولای شي.

اسلامي نظام دی چې د ټولنې د هر فرد د حقوقو د خونديتابه له پاره يوه با ثباته او په عدل ولاړ اداري سيستم له ځانه سره لري.



د فتحې او بریا طلایي راز



لیکوال: احمد سنجار فاروقي

جهاد د ایمان تر ټولو اوچته مرتبه او د عمل انتها ده، خو پدې لار کې بریا ته د رسېدو لپاره یوازې جذبه کافي نه ده؛ بلکې دا یو تنظیم، یووالی، او د مشرتابه بېقیده او شرطه اطاعت غواړي. تاریخ شاهد دی چې هرکله مسلمانان د خپل قیادت تابع شوي، نو بریا یې ترلاسه کړې، او کله چې یې مشرتابه ته شا کړې، نو د ذلت کندو ته لوېدلي دي.

که موږ د بدر میدان ته نظر واچوو، نو هلته د اصحابو اطاعت او د اللّٰه تعالی نصرت سره یوځای شول، او کفار یې راوپرځول. خو د احد جګړه بیا موږ ته یو ستر درس راکوي: کله چې یو څو مجاهدینو د امیر امر ته پوره پاملرنه ونه‌کړه، نو د بریا پر ځای د سختې ازموینې سره مخ شول.

نن هم، د جهاد هر صف ته همدا اصول دي: د امیر اطاعت، د وحدت ساتنه، او د نفساني غوښتنو قرباني کول.

که یو مجاهد غواړي چې د اللّٰه تعالی رضا، نصرت او بریا ترلاسه کړي، نو باید خپلې شخصي غوښتنې، ځانغوښتنه او انانیت د مشرتابه تر امر لاندې قربان کړي.

اسلام د انفرادي هڅو پر ځای د یووالي او جماعت اصول وضع کړي دي. کله چې افراد په یوه نظم کې، د یوه قیادت تر سیوري لاندې یو موټی شي، نو دوی د سیند د خوړینو څپو په څېر دښمن مخه ډب کوي

جماعت یوازې د افرادو مجموعه نه ده، بلکې دا د عقیدې، وحدت، او مشن یو سپېڅلی تنظیم او یون دی. که د اسلام تاریخي بریاوو ته وګورو، نو هر ځل چې مسلمانان په یوه صف کې، د یو امیر تر قیادت لاندې منسجم شوي، نو د دوی ځواک دوه برابره شوی، او بریا یې خپله کړې.

خو هر کله چې ځانغوښتنه، فرقه‌پالنه، یا د انفرادیت هوس پیدا شوی، هلته ماتې، کمزوری او دښمن ته د نفوذ موقع او زمینه برابره شوې. دا یو داسې حقیقت دی چې قرآن، سنت، او د مسلمانانو تاریخي تجربې یې له موږ سره شریکوي.

تاریخ موږ ته څه رابښيي!؟

د اسلام له پیل نه تر نن پورې، هرکله چې یو خوځښت یا امت د مشرتابه اطاعت ته غاړه ایښې، نو اللّٰه تعالی ورته بریا ورکړې

حضرت آدم علیه‌السلام ته فرشتو سجده وکړه، خو ابلیس د انانیت له امله سرکشي وکړه، او د تل لپاره مردود شو.

صحابه کرام، چې د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم بېساری اطاعت یې کاوه، د نړۍ شرق او غرب ته له سپینو محمدي بیرغونو سره ته ورسېدل.

په عثماني خلافت کې چې کله داخلي فتنې پیدا شوې، مسلمانان له عظمت نه سقوط ته ولاړل.

دا ټولې کیسې موږ ته دا درس راکوي: ذ مشرتابه تابع شئ، یا د ناکامۍ کندې ته پرېوځئ!



د تحریک طالبان پاکستان تجربه یو ځل بیا د بریا پر لور:

تحریک طالبان پاکستان، چې یو وخت د نړۍ له تر ټولو پرمختللو او ځواکمنو جهادي حرکتونو څخه و، د اطاعت، وحدت او قربانۍ پر بنسټ ولاړ و. خو متأسفانه، داخلي اختلافاتو، د شخصي ګټو جګړو، او د انفرادیت هوس دا حرکت کمزوری کړ.

کله چې دا تحریک د امیر قیادت ته ژمن و، نو د اللّٰه تعالی نصرت ورسره و، او په پرلهپسې توګه یې بریاوې خپلولې. خو کله چې ځینو کسانو ځان له امیره پورته وګاڼه، د خپلو نظریاتو پیروي یې پیل کړه، او د تنظیم له اصولو یې سرغړونه وکړه، نو دې اختلافاتو دښمن ته د نفوذ موقع ورکړه، او دې تحریک ته یې ډېر زیان ورساوه.

خو د اللّٰه تعالی په ځانګړي فضل او نصرت، د الشیخ ابو منصور عاصم، مفتي نور ولي محسود صاحب حفظهاللّٰه د مشرتابه په راتګ سره تحریک طالبان پاکستان ته بېرته نوی روح او ژوند وروبخښل شو. د نوموړي حفظه اللّٰه تدبیر، شرعي بصیرت، او قوي قیادت دا تحریک بېرته منسجم کړ، او د یو نوي قوت سره یې په ډېرې کړندۍ او چټکتیا سره بیا خپل حرکت او جهادي یون ته دوام ورکړ.

خو لا هم ځیني کسان په بشپړه مانا د مشرتابه اطاعت ته زړه نهسپاري، او دا باور لري چې دوی آزاد دي، او د هیڅ قیادت پابند نه دي. ځیني کسان د خپلو شخصي ګټو د ساتلو لپاره د جماعت د نظم پر ځای خپل ځان ته لومړیتوب ورکوي، او ځیني نور بیا د دې لپاره د اطاعت نه انکار کوي چې دوی پخوا آزاد جهادي خدمات ترسره کړي دي

بریا چېرته ده؟

اوس د هر مجاهد لپاره اړینه ده چې خپل ځان وڅېړي:

آیا زه د اللّٰه رضا ته ژمن یم، که د خپل نفس تابع یم؟

آیا زه د قیادت اطاعت کووم، که ځانغوښتنه مې اولویت دی؟

آیا زه وحدت ته ژمن یم، که خپل شخصي فکر ته؟

که مونږ غواړو، چې جهادِ پاکستان بېرته خپل اصلي قوت ته ورسېږي، نو باید ټول د تحریک طالبان پاکستان د یو امیر تر قیادت لاندې یو موټی، منظم، او تابع شو. مونږ باید دا درک کړو چې د اللّٰه تعالی نصرت یوازې هغو خلکو ته ورکول کېږي، چې د اطاعت، وحدت، او قربانۍ روحیه لري.

که مونږ د اطاعت، وحدت، او قربانۍ اصل هېر کړو، نو یوازې د خپل تحریک نه، بلکې د خپل دین، دنیا، او آخرت زیان ته مو ځان برابر کړی.

تاریخ شاهد دی چې هغه قومونه چې خپل مشرتابه ته مخلص پاتې شوي، د بریا شمله یې پر سر شوي، خو هر هغه ملت چې په داخلي اختلافاتو، د مشرتابه څخه په سرغړونو، او ځانغوښتنه اخته شوي، د ناکامۍ کندې ته پرېوتی دي.

د فتحې طلایي راز:

که مونږ د اللّٰه تعالی نصرت، د فتحې، او د عزت طلبګار یو، نو باید ټول د یو امیر اطاعت ته غاړه کېږدو، متحد پاتې شو، او د تحریک طالبان پاکستان د قوي کولو لپاره له خپل ټول توان او وسه کار واخلو.

همدا د بریا راز دی!

غزه؛ د قربانۍ او شجاعت یو لامثاله انځور

لیکوال: نور الهدا خلیل

د ګڼو کنډوالو او ویجاړیو په منځ کې یوې خونخوارې پرتې سیمې ته خبریال ځي، کوري چې د یو وران کور په ویجاړیو کې یوه باشهامته او د لوړ ایمان څښتنه مور خپل تېر د خوښیو او د غزې د جنتي وطن یادونو ته ناسته ده، خبریال سلام پرې کوي، د حال پوښتنه یې کوي، ورته وايي چې الحمدللّه ښه یم، خبریال پوښتنه کوي چې دلته څه کوې؟، مور ورته وايي، چې دا زما کور و، دغه توشکې، بالښتونه او نور څیزونه ګورم له دې وروسته بیا وايي: "قسم خورم زه نه پوهېږم چې چېرته لاړه شم." خبریال پوښتنه کوي چې څه پیغام لرې، مور ورته وايي چې الحمدللّه د اللّه تعالی په فیصله راضي یم هر څه چې اللّه تعالی پیښ کړل زه پرې راضي یم، الحمدللّه چې یوه خېمه هم پیدا شي مونږ دلته خپل ژوند ته بیا ادامه ورکوو.

د دې مور خبرې د هغې د بې کوره کېدو او د راتلونکې په اړه د نامعلوم حالت څرګندونه کوي.

د هغې کور، چې د کلونو زحمت او مينې نتيجه وه، په څو شيبو کې په کنډوالو بدل شو. خو سره له دې شتر زيان دې مور خپل عزم او مقاومت له لاسه ورنکړ. هغې وويل: "حتى که يوه خېمه هم وي، زه به په خپل کور کنډوالو کې ژوند وکړم." دا جمله د هغې د خپلې خاورې او کورنۍ سره د ژور تړاو او د ژوند د بيا پيلولو ارادې ښيي چې هيڅکله به هم دا خاوره يهودي اشغالګرو ته پرينږدي.

د غزې خلک، لکه دا مور، د سختو شرايطو سره سره، خپل مقاومت او هيله له لاسه نه ورکوي. دوی د خپلو کورونو په کنډوالو کې د ژوند د بيا پيلولو لپاره هڅه کوي او نړۍ ته پيغام ورکوي چې د ظلم او بې عدالتۍ په وړاندې به هيڅکله تسليم نه شي.



غزه لکه دغه مور موږ ته د ايثار او قربانۍ ميدان ته رابلي، غزه زموږ ايمان ننګوي، غزه د مسلمه امت ايمان پلورونکي راښيي، غزه د شهادتونو او قربانيو داستانونه جوړوي، غزه موږ ته راښيي چې سرلښکر يا امير بايد داسې وي لکه يحيى سنوار، غزه هغو ځوانانو ته پيغور ورکوي کوم چې اسلام لپاره د جهاد سفر خو پرېږده چې ان د اسلام په ننګه قلم هم نشي ځرخولای، غزه موږ ته راښيي چې کاميابي په زيات نفوس او پرمختللو اسلحو نه، بلکې د ايمان زور غواړي، غزه موږ ته راښيي چې څنګه بايد ځان د نړۍ تر ټولو خطرناکې جاسوسۍ ادارې څخه په امن کې وساتو، چې ان يو جاسوس هم د دوی په منځ کې پيدا نشو، غزه موږ ته راښيي چې څنګه بايد خپل رازونه افشا نکړو، غزه موږ ته راښيي چې اسلامي نړۍ د ايمان پلورونکو له خوا اداره کېږي، غزې موږ ته د مشرکينو له خوا د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه په اصحابو باندې اقتصادي محاصره رايادوي کړه او بالاخره دا چې غزه د ايمان سنګر ده، چې د الله تعالى په نصرت به يو نه ماتيدونکې مورچل وي.

ان شاء الله





2024 زیږدیز کال: د تحریک طالبان پاکستان مبارک فتوحات، د کړېدلي فلسطین د مظلومیت داستان او د ښکلي شام د آزادۍ سفر

لیکوال: جمشېد انصاري

2024 زیږدیز کال د ټول اسلامي امت لپاره د مبارزې، قربانۍ، او بریاوو یو روښانه سباؤن و. په دې کال د تحریک طالبان پاکستان مجاهدینو د فتحو دروازې وټکولې، د فلسطین د مظلومو خلکو د استقامت داستانونه ولیکل شول، او د شام د آزادۍ لمر د ظلم په تیارو کې وځلېد. دا کال د امت مسلمه لپاره د امیدونو، قربانیو، او د الله تعالی د نصرت یو نوی باب و، دا یې روښانه کړه چې د حق او باطل په دې معرکه کې هغه څوک بریالي کېږي، څوک چې په پوره اخلاص، عظیمت، قربانۍ او استقامت سره د دین لار غوره کړي.

تحریک طالبان پاکستان؛ له نه هېرېدونکیو قربانیو تر مبارکو فتوحاتو:

2024 زیږدیز کال د تحریک طالبان پاکستان لپاره له بریاوو ډک کال و، په دې کال مجاهدینو د 1758 بېلابېلو بریمنو عملیاتو له لارې د دښمن په زړه وېره ګډه کړې وه، د هغوی مهم مرکزونه یې په نښه کړل او د خپلو قربانیو په قیمت یې د ظلم او جبر په وړاندې د حق بیرغ رپاند وساته، د دې بریاوو راز د مجاهدینو د قربانۍ جذبه، عصري پوځي (حکمت عملي) او د الله جل جلاله په لار کې بې مثاله استقامت او مېړانه وه.

د تحریک طالبان پاکستان د سترېنیو فتوحاتو تر شا یو لوی راز د هغوی یووالی او دښمن ته د ګډ هدف لپاره د یو کلک او مستحکم صف جوړونه وه. د تحریک طالبان پاکستان مجاهدینو دا ثابته کړه، کله چې مسلمانان د یوه لوی هدف لپاره سره یو موټی شي، هېڅ زبرځواک یې د ماتولو توان نلري، دا د ټول امت مسلمه لپاره یو مهم درس او پیغام هم دی چې؛
د تفرقې او اختلاف پر ځای یووالی او د دین پر محور حرکت د بریا اصل دی.

فلسطین؛ د صهیوني ظلم په وړاندې د استقامت یو بې مثاله داستان:

فلسطین د 2024 زیږدیز کال په اوږدو کې د مظلومیت او مقاومت یوه بېلګه وه. د صهیوني رژیم ظلمونو، د مسجد اقصی بې حرمتي، او د زرګونو فلسطینیانو بې ګناه شهادت د ټولې نړۍ وجدان وځپلو. خو فلسطیني ولس د دې ټولو مظالمو پر وړاندې د زړورتیا یوه بې ساري بېلګه وړاندې کړه. د هغوی ثابت قدمي، د خپل حق لپاره بې ساري مبارزه، او د آزادۍ لپاره د هغوی تندې نړۍ ته یو روښانه پیغام ورکړ: "موږ د آزادۍ لپاره ژوندي یو او د دې لارې قربانۍ ته هره شېبه چمتو یو."

د امت مسلمه د مختلفو برخو ملاتړ او د فلسطيني مبارزې لپاره د هغوی يووالی يو ځل بيا دا روښانه کړه چې د مظلومانو ملاتړ او مرسته زموږ ديني او اخلاقي دنده ده. دا د اللّه جل جلاله له لوري يو امانت دی چې موږ يې ساتنه بايد وکړو.

د انبياوو ځمکه شام؛ له تيارو څخه د آزادۍ په لور:

شام د تېرو لسيزو په اوږدو کې د ظلم او بربريت د يوه تور تاريخ شاهد پاتې شوی، خو 2024 زيږديز کال د اميدونو څرک و. د مجاهدينو زړورتيا، د هغوی بې ساري قربانۍ، او د ظلم پر وړاندې د هغوی د مبارزې په پايله کې د آزادۍ څرکونه راښکاره شول. د انبياوو دا مقدسه ځمکه، چې کلونه يې د ظلم تياره پر ځان تېره کړه، اوس د آزادۍ د لمر په وړانګو کې وځلېده. د شام خلکو نړۍ ته وښوده چې د ايمان او استقامت په مرسته هر ظالم نظام ماتېدلی شي.

پاکستان، چې د اسلام په نوم جوړ شو، نن ورځ د بې عدالتيو، کفري قوانينو، او استبداد د تيارو لاندې د يو نوي روح او اسلامي نظام غوښتنه کوي. تحريک طالبان پاکستان او نورو مجاهدينو د خپلو قربانيو په برکت دا واضحه کړې ده چې د ظلم او جبر نظام تر هغې نه شي له منځه تللی تر څو چې اسلامي نظام په عمل کې رانشي. د پاکستان د ملت بقا او پرمختګ يوازې په هغه وخت کې ممکن دی چې د قرآن او سنتو پر اصولو ولاړ اسلامي نظام نافذ شي.

د پاکستان ولس، په ځانګړې توګه د ديني طبقې لپاره دا وخت دی چې بايد د دين اسلام د سربلندۍ لپاره ميدان ته راشي. د مدارسو، مسجدونو، او ديني ادارو مکلفيت دی چې د خلکو د تربيې لپاره قرآن او سنت لارښوونې وړاندې کړي او د امت يووالي ته کار وکړي. د دين د عملي کولو لپاره بايد يوازې په خالي خطبو او درسونو بسنه ونکړي، بلکې د دې تر څنګ په عمل کې هم بايد برخه واخلي. د اسلامي نظام د قيام لپاره هره طبقه بايد خپل رول او کردار ترسره کړي.

اې د ملت ځوانانو! تاسو د امت مسلمه راتلونکی ياست. د علم په ترلاسه کولو کې ځانونه لوړ کړئ، خو دا علم د امت د خدمت لپاره وکاروئ. خپل ژوند د قرآن او سنتو پر محور جوړ کړئ، د تقوا، قربانۍ، او استقامت روحيه په ځان کې پياوړې کړئ. د ظلم او استبداد پر وړاندې خپل رول ادا کړئ او په ځان کې داسې وړتياوې پيدا کړئ چې د هر ډول آزمېښتونو پر وړاندې ټينګ او مستحکم پاتې شئ.

زيږديز کال موږ ته وښووده چې د 2014 قربانۍ، استقامت، او يووالي په مرسته هر لوی ځواک له ماتې سره مخ کېدای شي. امت مسلمه ته پکار ده چې د اللّه تعالی په رالېږل شوې رسۍ پوږې په کلکه ونښلي، د اسلامي نظام د قيام لپاره خپل سفر ته دوام ورکړي، او د دين سربلندۍ لپاره د قربانيو يوه نوي باب ته داخل شي. اللّه دې موږ ته هدايت وکړي او د دې سترې مبارزې برخه جوړېدو توفيق راکړي. آمين!



د رسول الله ﷺ د وفات وروستۍ شېبې، د امت لپاره د فراق درد او الهي وصال

لیکوال: عبدالحمید جلالي

د وفات څخه درې ورځې مخکې په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ام المومنین حضرت میمونې رضي الله تعالی عنها په کوټه کې تشریف درلود، وفرمایل: امهات المومنین ټولې راوغواړئ.

ټولې ازواج مطهرات ورته راغلې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورڅخه د اجازې غوښتنه وکړه، آیا تاسې اجازه راکوئ چې د مریضۍ ورځې او شپې د حضرت عایشې رضي الله تعالی عنها سره تېرې کړم؟

ټولو په یوه خوله وویل: اې د الله تعالی رسوله! تا ته اجازه ده.

بیا یې غوښتل چې اوچت شي، خو وې نشو کړای. حضرت علی رضي الله تعالی عنه او حضرت فضل بن عباس رضي الله تعالی عنه رامخې ته شول او رسول الله صلي الله علیه وسلم ته یې تکیه ورکړه او د سیده میمونې رضي الله تعالی عنه له کوټې څخه یې د حضرت عایشې رضي الله تعالی عنها د کوټې لوري ته روان کړ.

صحابه کرامو رضي الله تعالی عنهم چې هېڅکله یې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه ډول نه و لیدلی، په وېره کي شول.

چغې او ږغونه پورته شول، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې څه شوي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې څه شوي ؟

په دغه حال کې صحابه کرام رض په یو جوومات کې په ټولېدو شول، هر لوري څخه جوومات ته راتګ او جمع کېدل پیل شول، مسجد نبوي کې رش کش جوړ شو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زیاته خوله د مرض د شدت له امله روانه وه.

حضرت عایشه رضي الله تعالی عنها وایي: ما په خپل ژوند کې دا ډول خوله تلل له چا څخه وه لیدلې، بیا یې وفرمایل: ما د رسول الله صلی الله علیه و سلم مبارک لاس په خپل لاس کې ونیو او د هغه په مخ مې ګرځاوه، ځکه د هغه لاس زما څخه ډېر محترم او پاکیزه و، او بیا حضرت عایشې رضي الله تعالی عنها زیاته کړه: ما د الله تعالی له حبیب څخه دغه الفاظ اورېدل: لا الله الا الله

ان للموت لسکرات

(بېشکه د مرګ خپله سختي وي)

دغه مهال په جوومات کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړوند تشویش او وېره زیاته شوه،

دغه حالت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه په دفاع کې دغه الفاظ وویل:اې خلکو! ابوبکر په خپل حال پرېږدئ.

تاسو کې داسې هیڅوک نشته چې مونږ سره یې نیکی کړې وي او مونږ یې معاوضه نه وي ورکړې، پرته له ابوبکر څخه.

د هغه معاوضه ما نشوه ورکولای پرته د الله تعالی څخه، نو ما هغه الله تعالی ته پرېښوده.

او بیا یې وویل: د مسجد نبوي ټولې دروازې بندې کړئ، پرته د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله تعالی عنه له دروازې څخه چې هیڅکله به بنده نه وي.

په آخر کې، د وفات څخه مخکې وروستی دعا یې دا ډول وکړه:

الله تعالی دې تاسو ښه جایګاه درکړي.

الله تعالی دې ستاسو سره مرسته وکړي.

الله تعالی دې ستاسو حفاظت وکړي او الله تعالی دې ستاسي تائید وکړي.

او د منبر څخه د ښکته کېدو پرمهال یې خلکو ته مخ واړاوه او ویې فرمایل: اې خلکو! تر قیامته تاسو هر یو زما هر امتي ته سلام ورسوئ!له دې خبرې څخه وروسته، یو ځل بیا د هغه مبارکې اوږې ته، صحابه کرامو اوږې ورکړې او د حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها کوټې ته یې انتقال کړ.

دغه مهال حضرت عبدالرحمن بن ابوبکر رضي الله تعالی عنه خدمت ته حاضر شو، د هغه په لاس کې مسواک و، رسول الله صلی الله علیه وسلم مسواک ولید، خو د مرض د شدت له امله یې ونشو غوښتلی.

کله چې حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها ولید، نو پوه شوه او د حضرت عبدالرحمن رضي الله تعالی عنه څخه یې مسواک واخیست او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوله مبارکه کې یې ورکړ. خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د شدت د مریضې له امله ونشو کولای چې استعمال یې کړي.

حضرت عایشې رضی الله تعالی عنها واخیست، په خپله خوله کې نرم کړ او بیا یې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خولې مبارکه کې ورکړ.

نو ځکه حضرت عایشه رضي الله تعالی عنها وایي، وروستني څه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکې خېټې ته لاړل، زما د خولې لعاب و، الله تعالی پر ما فضل وکړ چې د وصال څخه مخکې زما او رسول الله صلی الله علیه وسلم لغاب سره یوځای کړې.

حضرت عایشه رضي الله تعالی عنها فرمایي: دغه مهال د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور حضرت فاطمة الکبری تشریف راوړ، د راتللو سره په ژړا شوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د پورته کېدو کوښښ وکړ، خو ویې نشوای کړای.

دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت و چې کله به حضرت فاطمة الکبری راغلله، هغه به ورته پورته .شو او له تندې به یې ښکل کړه

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: فاطمې رانېږدې شه!

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې په غوږکې څه خبرې وکړې، دغو خبرو سر د حضرت فاطمة رضي الله تعالی عنها ژړا نوره هم زیاته شوه. کله چې یې د هغې ژړا دغه ډول زیاته ولیده، نو یو ځل بیا یې ورته وویل:فاطمې رانېږدې شه!

چې کله یې بیا د هغې په غوږکې څه وویل، نو حضرت فاطمة الکبری رضي الله تعالی عنها خوشحاله شوه.

حضرت عایشه رضي الله تعالی عنها فرمایي:ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته د حضرت فاطمة الکبری رضي الله تعالی عنها څخه یوه ورځ پوښتنه وکړه، چې څرنګه دې یو ځل ژړا زیاته شوه او بل ځل خوشحاله شوې.

دغه حالت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه په دفاع کې دغه الفاظ وویل:اې خلکو! ابوبکر په خپل حال پرېږدئ.
تاسو کې داسې هیڅوک نشته چې مونږ سره یې نیکی کړې وي او مونږ یې معاوضه نه وي ورکړې، پرته له ابوبکر څخه.
د هغه معاوضه ما نشوه ورکولای پرته د الله تعالی څخه، نو ما هغه الله تعالی ته پرېښوده.
او بیا یې وویل: د مسجد نبوي ټولې دروازې بندې کړئ، پرته د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله تعالی عنه له دروازې څخه چې هیڅکله به بنده نه وي.
په آخر کې، د وفات څخه مخکې وروستی دعا یې دا ډول وکړه:
الله تعالی دې تاسو ښه جایګاه درکړي.
الله تعالی دې ستاسو سره مرسته وکړي.
الله تعالی دې ستاسو حفاظت وکړي او الله تعالی دې ستاسې تائید وکړي.
او د منبر څخه د ښکته کېدو پرمهال یې خلکو ته مخ واړاوه او ویې فرمایل:
اې خلکو! تر قیامته تاسو هر یو زما هر امتي ته سلام ورسوئ!له دې خبرې څخه وروسته، یو ځل بیا د هغه مبارکې اوږې ته، صحابه کرامو اوږې ورکړې او د حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها کوټې ته یې انتقال کړ.
دغه مهال حضرت عبدالرحمن بن ابوبکر رضي الله تعالی عنه خدمت ته حاضر شو، د هغه په لاس کې مسواک و، رسول الله صلی الله علیه وسلم مسواک ولید، خو د مرض د شدت له امله یې ونشو غوښتلی.
کله چې حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها ولید، نو پوه شوه او د حضرت عبدالرحمن رضي الله تعالی عنه څخه یې مسواک واخیست او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوله مبارکه کې یې ورکړ. خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د شدت د مریضي له امله ونشو کولای چې استعمال یې کړي.

حضرت عایشې رضی الله تعالی عنها واخیست، په خپله خوله کې نرم کړ او بیا یې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خولې مبارکه کې ورکړ.
نو ځکه حضرت عایشه رضي الله تعالی عنها وایې، وروستني څه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکې خېټې ته لاړل، زما د خولې لعاب و، الله تعالی پر ما فضل وکړ چې د وصال څخه مخکې زما او رسول الله صلی الله علیه وسلم لغاب سره یوځای کړې.
حضرت عایشه رضي الله تعالی عنها فرمایې: دغه مهال د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور حضرت فاطمة الکبری تشریف راوړ، د راتللو سره په ژړا شوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د پورته کېدو کوښښ وکړ، خو ویې نشوای کړای.
دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت و چې کله به حضرت فاطمة الکبری راغله، هغه به ورته پورته شو او له تندې به یې ښکل کړه.
رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: فاطمې رانېږدې شه!
بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې په غوږکې څه خبرې وکړې، دغو خبرو سر د حضرت فاطمة رضي الله تعالی عنها ژړا نوره هم زیاته شوه. کله چې یې د هغې ژړا دغه ډول زیاته ولیده، نو یو ځل بیا یې ورته وویل:فاطمې رانېږدې شه!
چې کله یې بیا د هغې په غوږکې څه وویل، نو حضرت فاطمة الکبری رضي الله تعالی عنها خوشحاله شوه.
حضرت عایشه رضي الله تعالی عنها فرمایې:ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته د حضرت فاطمة الکبری رضي الله تعالی عنها څخه یوه ورځ پوښتنه وکړه، چې څرنګه دې یو ځل ژړا زیاته شوه او بل ځل خوشحاله شوې.

هغـي ځـواب راکـړ: کلـه چـي پـه لومـړي ځـل ناپېږدي شـوم، راتـه يـي وويـل نـن شـپه زمـا لـه دنيـا وصـال دی، نـو ځکـه مي ژړا زياته شوه.
چـي زمـا زياتـه ژړا يـي وليـده، نـو دوهـم ځـل يـي راتـه وويـل: زمـا پـه اهـل کـي تـر ټولـو لومـړی تـه راسـره يوځـای کېږې، نو ځکه زه خوشاله شوم.
هماغـه و چي حضـرت فاطمـة رض ابلـه) شـپږ مياشـتي د رسـول اللَّه صلـی اللَّه د وفـات څخـه وروسـته ژونـد وکـړ او وفـات شـو حضـرت عايشـه رضـي اللَّه تعالـی عنهـا فرمايـي: دغـه مهـال رسـول اللَّه صلـی اللَّه عليـه وسـلم ټولـو تـه حکـم وکړ، چي د کوره بهر شئ.
ويـی فرمايـل: عائشـي! مـا تـه رانېږدي شه! رسول اللَّه صلـی اللَّه عليـه وسـلم دغـه مهـال د هغـي پـه سـينه تکيـه ووهلـه، خپـل لاس يـي د آسـمان لـوري ته جګ کړ او ويې ويل: الرفيق الاعلی
(يعنـي زه د اللَّه تعالـی رفاقـت اختياروم)
حضـرت عايشـه رضـي اللَّه تعالـی عنهـا فرمايـي: زه پـوه شـوم چـي هغـه آخـرت انتخـاب کـړ، حضـرت جبرائيـل عليـه السـلام حاضـر شـو او ويـي ويـل: يـا رسـول اللَّه! ملـک المـوت دروازې سـره ولاړ دی، اجازه غـواړي، لـه دي مخکـي هغـه له چا د اجازې غوښتنه نده کړې.
رسـول اللَّه صلـی اللَّه عليـه وسـلم وفرمايل: اجازه ورکړه.
ملک الموت داخل شو او ويې ويل:
السلام عليک يا رسول اللَّه.
زه د دي لپـاره رالېـږل شـوی يـم چـي اختيـار درکـړم چـې دنيـا اختيـاروې او که د اللَّه تعالی لوری؟
رسـول اللَّه صلـی اللَّه عليـه وسـلم بـار بار دا الفاظ تکرارول.
الرفيق الاعلی الرفيق الاعلی
ملـک المـوت رسـول اللَّه صلـی اللَّه عليـه وسلم ته مخامخ.
حضـرت عايشـه رضـي اللَّه تعالـی عنهـا فرمايـي: د رسـول اللَّه صلـی اللَّه عليـه وسـلم لاسـونه مبـارک لانـدې راتـلل پيـل کـړل، سـر مبـارک يـي زمـا پـر سـينه درونـد شـو. زه پـوه شـوم چـي د رسـول اللَّه صلی اللَّه عليه وسلم وصال له

دنيـا وشـو. زه پـه ځـان پـوه نشـوم چـي څرنګه د مسجد لوري دروازې ته ولاړم.
او هلتـه مـي ږغ وکـړ: رسـول اللَّه صلـی اللَّه عليه وسلم وفات شو
رسـول اللَّه صلـی اللَّه عليـه وسـلم وفـات شو.
دغه مهـال پـه مسـجد کـې د خلکـو چغـې او فريادونه اوچت شول.
حضـرت علـی رضـی اللَّه تعالـی عنـه چـي پـه کـوم ځـاي ولاړ و، سملاسـي بـي طاقته شو او کېناست.
حضـرت عثمـان رضـي اللَّه تعالـی لکـه د ماشومانو چغې او ژړا پيل کړه.
حضـرت عمـر رضـي اللَّه تعالـی عنـه خپلـه تـوره لـه را وويسـتله، اوچتـه يـي کـړه او ويـي ويـل: خبـردار! کـه چـا وويـل، رسـول اللَّه صلـی اللَّه عليـه وسلم وفـات شـوی، زه بـه يـي سـر لـه تن څخه جدا کړم.
هغـه د اللَّه تعالـی ملاقـات لپـاره تللـی لکـه څرنګـه چـي موسـی عليـه السـلام د خپل رب ملاقات وکړ او بېرته راغی.
دغه مهـال تـر ټولـو زيـات صبـر، برداشـت او ضبـط کونکـی شـخص حضـرت ابوبکـر صديق رضی اللَّه تعالي عنه و.
هغـه د رسـول اللَّه صلـی اللَّه عليـه وسلم کوټـې تـه آرام داخـل شـو، د هغـه پـه سـينه مبارکـه يـې سـر کېښـود او بيـا يـي پـه تنـدي مبـارک ښـکل کـړ او په ژړا ژړا يي وويل.
واااا خليـلاه، وااا صفيـاه، وااا حبيبـاه، وااا نبياه
واا زما ګران دوسته!!
واا زما مخلص ملګريه!!
واا زما محبوبه!!
واا زما نبي!!
او بيـا يـي زياتـه کـړه چـي پاکيـزه ژونـد دي وکـړ او پاکيـزه لـه دې نـړۍ رخصـت شوې.
او بيـا د کوټـي څخـه بهـر راووت چـي کلـه صحابـوو هغـه وليـد، ټـول يـي خـوا تـه راغونـډ شـول، نـو بيـا يـي دغـه خطبـه پيل کړه او دغه آيات يي ولوست.



وَ مَا محمدٌ اِلَّا رَسُوۡلٌ ۚ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِهِ الرُّسُلُ ؕ اَفَا۠ئِنۡ مَّاتَ اَوۡ قُتِلَ انۡقَلَبۡتُمۡ عَلٰۤی اَعۡقَابِکُمۡ ؕ وَ مَنۡ یَّنۡقَلِبۡ عَلٰی عَقِبَیۡهِ فَلَنۡ یَّضُرَّ اللّٰهَ شَیۡـًٔا ؕ وَ سَیَجۡزِی اللّٰهُ الشّٰکِرِیۡنَ (144)

او زياته ئې کړه: که چا د محمد عبادت کاوو، هغه وفات شوی، او که چا د اللّٰه تعالی عبادت کاوو، اللّٰه تعالی ژوندی دی او هیڅ کله نه مري.

د حضرت عمر رضي اللّٰه تعالی عنه د لاس څخه توره وغورځېده او د یوا ځې ځای په لټه کې شو، کېناست او په ژړا شو.

کله چې د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم تدفین وشو، نو حضرت فاطمة زهرا رضي اللّٰه تعالی عنها په ژړا دا خبرې تکرارولې.

تاسو څرنګه پر هغه خاورې وارولې؟

"يا أبتاه، أجاب ربا دعاه، يا أبتاه، جنة الفردوس مأواه، يا أبتاه، الی جبريل ننعاه."

يا پلار!! د خپلې بلنې په خاطر ولاړې، د خپل رب د دعوت لپاره، يا بابا جنت فردوس دې ځای دی يا پلاره جانه! جبرائيل ته د هغه د ورتګ خبر ورکوو.



اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ

يا رسول اللّٰه! يا محبوبه! د خلکو په منځ کې دې ژوند وکړ، د ژوند ورستی شېبو کې هم خلکو سره ملاقات دې اهم وګاڼه او د ژوند په وروستيو شېبو کې يې خپل ځان د خلکو محاسبې ته وړاندې کړ او مونږ ته يې سلام راوليږه.

الصلاة والسلام علیک



د پاکستان لپاره د تحریک طالبان پاکستان رسمي دریځ

له انډس انلایسټ اداري سره د تحریک طالبان پاکستان د ویاند، محمد خراساني ځانګړې مرکه

پښتو ژباړه: سیف الله احرار

د فبرورۍ 10مه، 2025

شالید:

د پاکستان سیاسي او امنیتي وضعیت تل د بېلابېلو قوتونو تر اغېز لاندې پاتې شوی، چې په کې دولت، سیاسي تحریکونه، او وسلهوالې ډلې شاملې دي. له دې جملې څخه یو مهم، خو ډېر جنجالي نوم، د تحریک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) دی.

د پاکستان دولت دا ډله یوه ترهګره ډله بولي، خو تحریک طالبان پاکستان ځان یو "مقاومتي غورځنګ" معرفي کوي، چې د "ظالمانه نظام" پر ضد جګړه کوي. د دې لپاره چې ولس ته د دوی دریځ مستقیماً ورسوو، موږ د تحریک طالبان پاکستان له ویاند، محمد خراساني، سره ځانګړې مرکه وکړه.

په دې مرکه کې، ښاغلي خراساني د تحریک طالبان پاکستان د اهدافو، نظریاتي لیدلوري، او د پاکستان د راتلونکي په اړه خپل نظر او دریځ څرګند کړ.داچې د تحریک طالبان پاکستان په اړه د خلکو نظرونه او لیدلوري پراخ توپیر لري، دا مرکه د تحریک طالبان پاکستان ، دریځ مستقیماً د ولس مخې ته ږدي، ترڅو دوی خپله قضاوت وکړي چې د دوی ادعاوې او اهداف څومره معقول دي. دا مرکه د یوه ځانګړي نظر د ملاتړ لپاره نه ده، بلکې دا هڅه ده چې د یوه مهم فاعل او کردار لوبونکي فکر وپېژنو، چې دا مهال د پاکستان پر ټولنه سیاسي فضا او ټولنیز ډګر د پام وړ مهم اغېز لري.

موږ پدغه مرکه ټولې 17 پوښتنې وکړې، او خراساني صاحب د ټولو پوښتنو ځوابونه ورکړل. پرته له ځنډه، راځئ د مرکې تفصیل ته ولاړ شو.

مرکه:

د پېژندنې پوښتنه: ترهرڅه مخته خپل ځان را معرفي کړئ، ستاسو د تحریک طالبان پاکستان له مشرانو سره څه ډول اړیکې دي، او ستاسو نظریه د ټول تنظیم په کچه تر کومه بریده استازیتوب کوي؟

ځواب: بسم الله الرحمن الرحيم.
نحمده و نصلي و نسلم على رسوله الكريم، اما بعد!
زه د تحريک طالبان پاکستان رسمي وياند (محمد خراساني) يم، او دلته د خپلو شخصي نظرياتو استازيتوب نه کوم، بلکې د يو مسؤل په توګه د تحريک د رسمي پاليسۍ مطابق ستاسې پوښتنې ځوابووم.
لومړۍ پوښتنه: آيا تاسو د تحريک طالبان پاکستان موخې او اهداف په مختصره توګه تشريح او ارزولی شئ؟

ځواب: داچې په ګران هېواد پاکستان باندې مسلطو ښکيلاکګرو پوځي جنرالانو او مفسدو واکمنو د پرديو جګړې تحميل کړې، او د دې جګړې په ترڅ کې يې د بېګناه هېوادوالو دين، ژوند، مال، عزت، کور او شتمنۍ تباه او برباد کړې، او په دين او وطن مئين خلک يې د دې ناسمو او غير شرعي پاليسيو له امله د خپل ځان خلاف جګړې ته اړ کړل، نو تر هغې چې دغه جنرالان د پرديو د اهدافو لپاره د جګړې کولو له خپل دغه سياست او پاليسيو څخه لاس وانخلي او د دې پردۍ جګړې څخه توبه ونه کړي، موږ به د دوی پر وړاندې خپل مقدس او سپېڅلی جهاد جاري ساتي، او دا په پاکستان کې زموږ د روان جهاد اصلي مقصد او لنډيز دی. والله اعلم.
دويمه پوښتنه: د تحريک طالبان پاکستان نظرياتي او ايډيالوژي نقطه نظر څه دی؟ د بېلګې په توګه، آيا تحريک طالبان پاکستان د ديوبندي مسلک نه علاوه نورو اسلامي مکاتب فکرو لکه تحريک لبيک پاکستان، بريلوي، يا سلفي عقايدو لرونکو افرادو ته هم په خپلو ليکو کې ځای ورکوي؟
ځواب: له نظرياتي لحاظه، موږ په مکمله توګه پوره حنفي مذهبه او خالص ديوبندي افکار لرونکي يو، خو د بريلوي او سلفي فکر لرونکو په څېر مذهبي طبقاتو سره په فروعي مسائلو کې چې کوم واټن موجود دی، هغه د داسې کچې مسائل او واټن ندی چې زموږ په ګډو او لوړ هدفونو کې داسې کوم ټکر يا تضاد واقع کړي، چې له وجې يې موږ او هغوی د يو بل سره همکارۍ ونشو کولای، بلکې د ديوبندي مکتب فکر اکابرينو او سترو جيدو ديني عالمانو او همدا راز د سلفي او بريلوي حضراتو مهمو مشرانو او قائدينو په تېرو وختونو کې هم د ګډو لوړو او ټولنيزو اجتماعي هدفونو په خاطر په يو صف کې کار کړی، او په راتلونکي کې هم، په مشترکو اهمو اجتماعي مسائلو کې به موږ او هغوی يو صف کې ولاړيو او کار به کوو. بتوفيق الله عزوجل.
دريمه پوښتنه: آيا تحريک طالبان پاکستان په ټول پاکستان د حکومت کولو هدف لري که يوازې پر خيبر پښتونخوا؟ که ستاسو موخه ټول پاکستان وي، نو آيا غير پښتانه به هم لوړو منصبونو ته رسېدلی شي؟
ځواب: زموږ لومړنی هدف دا دی چې دا هېواد د هغو ظالمو او مستبدو جنرالانو او واکمنانو له تسلطه خلاص کړو، چې د پرديو د کټو لپاره يې پر دې ولس جګړه تپلې ده. کله چې دا مرحله پای ته ورسېږي، نو بيا به د اسلامي حکومت د جوړښت، نظام او ترتيب په اړه غور او مشورې کېږي.

موږ ته قوم، ژبه يا سيمه هېڅکله د منصبونو د ټاکلو معيار نه دی، بلکې زموږ لپاره اصل او معيار ديني بصيرت، وړتيا، امانتداري او تقوا ده. هر هغه څوک چې د اسلام او ملت د خير لپاره مناسب وي، هغه ته به دنده سپارل کېږي، که پښتون وي که غير پښتون، که هرې سيمې يا قوم پورې تړاو ولري.
څلورمه پوښتنه: که تحريک طالبان پاکستان په پاکستان کې حکومت جوړ کړي يا لږ تر لږه د خيبر پښتونخوا په څېر شتون په هر

صوبه کې ترلاسه کړي، نو نو امیر به څنګه ټاکل کېږي؟ آیا تحریک طالبان پاکستان به یو غیر پښتون لکه پنجابي، سندي، بلوڅ، یا مهاجر د امارت مقام ته پرېږدي؟

ځواب: زموږ تحریک نه د قومي تعصب پر بنسټ ولاړ دی، نه هم د لسانیت پر اساس، چې داسې پوښتنې راپورته شي. کوم تحریکونه چې د اسلامي نظریې پر بنسټ جوړ شوي وي، هلته د امیر ټاکل د قوم، سمت، یا ژبې پر اساس نه وي، بلکې د دیني اهلیت، تقوا، بصیرت، او قیادي صلاحیت پر بنیاد وي. که یو کس د دې معیارونو مستحق وي، نو که هر یو سیمې او قوم ته منسوب وي، اطاعت به یې فرض وي.

پنځمه پوښتنه: آیا تحریک طالبان پاکستان د پښتون قومپالنې پلوي کوي؟ د دې حقیقت سره سره چې تحریک طالبان پاکستان وایي قومي تعصب نه لري، ولې ډېر پلویان یې پښتون ملتپال دي؟ همداراز، ولې د جګړې په ډګرونو او سیمینارونو کې د پنجابیانو پر ضد د ځینو جنګیالیو نژادي سپکاوی لیدل شوی؟ که دا چاره د زغملو نه وي، نو تحریک طالبان پاکستان ورسره څنګه چلند کوي؟ آیا د دې لپاره کومه سزا شته؟

ځواب: له وړاندې څخه دا خبره روښانه شوې ده چې تحریک طالبان پاکستان د قومي تعصب یا لسانیت پر بنسټ نه دی جوړ شوی، بلکې د اسلام د حاکمیت لپاره هلې ځلې کوي. البته که په پاکستان کې کومه قومپاله ډله د خپلو مشروعو حقونو لپاره غږ پورته کوي یا وسلواله مبارزه کوي، موږ ورسره کوم اختلاف نه لرو، بلکې د هغوی د خپلو مشروعو او حقو غوښتنو تایید کوو او د هغوی هر ډول مشروع ملاتړ خپل دیني او اخلاقي مسؤولیت ګڼو.

دا خبره په بشپړه توګه ناسمه او پروپاګند دی، چې ګواکې زموږ په سیمینارونو کې د پنجابیانو سپکاوی شوی. تحریک طالبان پاکستان هغه ډول قومپالنه، چې نورو قومونو ته پکې سپکاوی کېږي، جاهلیت او حرام عمل ګڼي که زموږ د تحریک پر کوم غړي داسې جرم ثابت شي، نو اړونده مسؤولین یې سزا ورکوي. همداراز، د داسې ناسم چلند د مخنیوي لپاره په مرکزي او ولایتي کچه بېلابېلې اداري او مسؤولین ټاکل شوي دي.

شپږمه پوښتنه: د درېیمې او څلورمې پوښتنې په تعقیب، آیا تحریک طالبان پاکستان په پاکستان کې له پښتنو څخه پرته د نورو قومونو پر ضد نسل پرستۍ ته اجازه ورکوي، او که د نسل پرستۍ په ضد به یوه قوي پالیسي رامنځته کوي؟

ځواب: د دې ډول غیر شرعي او حرامو کارونو نه اجازه ورکول کیږي او نه هم د یوې داسې پالیسۍ د جوړولو امکان او ګنجایش شته چې شریعت خلاف وي.

اوومه پوښتنه: تحریک طالبان پاکستان به څنګه په پاکستان کې نسلي او قبیلوي کړکېچونه، په ځانګړې توګه په پښتنو او پنجابیو کې د کشیدګۍ مسئله حل کړي؟

ځواب: په پاکستان کې نسلي، قبیلوي، ژبني او مذهبي تعصبات او کشیدګۍ د پوځي ادارو له لوري پیل شوي دي، دا ټولې کشیدګۍ تر هغه وخته نه ختمیږي، تر څو چې د دوی واک د دولت په لاس کې وي. د دې ډول ټولو کشیدګیو او تعصباتو د ختمولو لپاره ضروري ده چې د پاکستان خلک د دولتي ادارو د ناوړه لاسونو د قطعه کولو لپاره د تحرکت طالبان پاکستان سره یوځای او هراړخیزه ملتیا یې وکړي.

اتمه پوښتنه: د تحریک طالبان پاکستان لخوا د مناسب عامه تصور جوړولو هڅې ولې کمزوري دي، په ځانګړې توګه په داسې وخت کې کله چې ملت یو پیاوړي مشرتابه ته

ارتیا لري؟ برسېره پر دې، د تحریک طالبان پاکستان اوسنۍ لومړیتوبونه څه دي؟

ځواب: تحریک طالبان پاکستان اوس مهال د پاکستان د خلکو د مظلومو هیلو مطابق د حکومتي بدمعاشانو په خلاف سپېڅلې مبارزه او جګړه کوي. زموږ د معلوماتو له مخې، د پاکستان د خلکو د روښانه راتلونکې ټولې هیلې له تحریک طالبان پاکستان سره تړلې دي. حقیقت دا دی چې ټول قوم د حکومتي ظلم څخه ستړی او لالهانده دی او د یوه نجات ورکوونکي په لټه کې دی، خو د حکومتي ادارو بېباساسه پروپاګندونو زموږ او خلکو ترمنځ لوی واټن جوړ کړی دی، چې اوس یې تاثیر تر ډېره بریده کم شوی هم دی. زموږ په لومړیتوبونو کې یو مهم لومړیتوب زموږ او خلکو ترمنځ جوړ شوی واټن ختمول دي.

نهمه پوښتنه: اوس زه د کرم اېجنسۍ په اړه خبرې کول غواړم. تحریک طالبان پاکستان د کرمې اېجنسۍ د تنازعې د حل په موخه د متاثرینو سره څه ډول انصاف او تعامل کوي؟

ځواب: د کرمې په سیمه کې د شیعه او سني ترمنځ دغه فسادات، چې د جګړې او بې ارزښته وژنو لامل شوي، د پاکستان د حکومتي ادارو له لوري رامنځته شوي دي. که حکومت دغه فسادات بند کړي او له دې جنګ څخه لاس واخلي، نو بیا به هیڅ ډول تنازع او دښمني نه وي. د دې کړکېچ اصلي او دایمي حل هغه وخت موندل کیدای شي کله چې پوځ او حکومتي استخباراتي ادارې له دې لوبې او ناخوالو څخه ځان بهر کړي.

لسمه پوښتنه: تحریک طالبان پاکستان به له زینبیون بریګېډ، چې د ایران لخوا یې ملاتړ کېږي او په ځانګړې توګه د سني مجاهدینو پر ضد دښمني لري، څنګه چلند وکړي؟

ځواب: په پاکستان کې یوازې د ایران ملاتړ لرونکي زینبیون بریګېډ نه، بلکې ګڼ شمېر نورې ښکاره او پټې وسله والې ډلې شته، چې د ریاستي ادارو له خوا رامنځته شوي او د دوی تر چتر لاندې فعالیت کوي. د دغو ډلو قوت او ضعف مستقیما د پاکستان د پوځي ادارو له قوت او ضعف سره تړلی دی. د دغو ټولو فتنو د پای ته رسولو یوازینۍ لار دا ده چې د پاکستان جرنیلي واکداران له دغو ډلو څخه خپل ملاتړ پای ته ورسوي او له دوی لاس واخلي.

یوولسمه پوښتنه: د داعش خراسان په اړه د تحریک طالبان پاکستان څه نظر دی؟

ځواب: په حقیقت کې زموږ په سیمه کې د داعش خراسان هیڅ حقیقي وجود نشته، خو د "داعش خراسان" له نوم څخه استفاده کول د پاکستان د ریاستي ادارو یوه بله دسیسه ده. دغه ادارې یو شمېر افراد په بلوچستان او خیبر پښتونخوا کې روزي او بیا یې د سیمې مختلفو هیوادونو، په ځانګړې توګه د افغانستان پر ضد د پراکسي جګړې لپاره کاروي.

دوولسمه پوښتنه: داعش خراسان ستاسې د تحریک (تي تي پي) او اهدافو لپاره څومره ستر ګواښ دی؟

ځواب: داعش خراسان زموږ د اهدافو لپاره هیڅ ډول ګواښ نه دی، ځکه چې د دوی حقیقي شتون په هغو سیمو کې نه شته، چې زموږ تر کنټرول او ولکې لاندې دي. البته، لکه څنګه چې مو مخکې وویل، د پاکستان ریاستي ادارې د دې نوم څخه ناوړه استفاده کوي او خپلې شومې موخې پرې عملي کوي.

دیارلسمه پوښتنه: موږ څه موده کېږي وینو چې داعش خراسان د تحریک طالبان پاکستان پر ضد خپله تبلیغاتي جګړه زیاته کړې ده. دوی اکثر د قبایلي یا سیاسي مشرانو پر ضد بریدونه کوي، چې له تي تي پي سره څه نا څه تړاو لري، لکه د مولوي فقیر محمد تره زوی، صوفي

حمید، یا له دې وړاندې مفتي بشیر احمد. همدا شان، دوی په وروستیو کې د کرم په سیمه کې د فرقهيي نښتو څخه د ګټې اخیستو هڅه کړې ده. تحریک طالبان پاکستان به د داعش خراسان نفوذ څنګه محدود کړي؟

ځواب: داعش خراسان سره زموږ هېڅ تړاو نشته، او کوم اشخاص چې تاسو یاد کړي، د هغوی هدف ګرځول د پاکستان د ریاستي ادارو کار دی، چې موږ یې څو ځله وضاحت کړی دی. البته، د "داعش خراسان" له نوم څخه د پاکستان استخباراتي اداري ناوړه استفاده کوي، د همدې نوم تر سیوري لاندې د دیني علماوو او قومي مشرانو ترور کوي، او بیا یې پر داعش خراسان تاوان اچوي، څو خپل حقیقي جرمونه پټ کړي.

څوارلسمه پوښتنه: په بلوچستان کې، د بلوچ لبریشن آرمي (بي ایل اې) او بلوچ لبریشن فرنټ (بي ایل ایف) په څېر وسلوالې ډلې ډېرې فعالې دي. دا دواړه ډلې سیکولر دي او غواړي پاکستان تجزیه کړي. له بلې خوا، تحریک طالبان پاکستان ادعا کوي چې د پاکستان د وېش مخالفه ده او موخه یې د ټول هېواد په کچه د شریعت نافذول دي. د دې حقایقو په بي ایل اې او بي ایل ایف د تحریک طالبان پاکستان د اهدافو لپاره خطر دي؟ که داسې وي، تحریک طالبان پاکستان به ورسره څنګه چلند کوي؟

ځواب: که بي ایل اې وي او که بي ایل ایف، دا ټول د خپلو مشروع حقونو لپاره مبارزه کوي. دا مهال چې دوی کومه دعوه لري او کومه وسلهواله مبارزه کوي، هغه سمه ده او زموږ د اهدافو پر وړاندې خنډ نه بلکې ګټوره ده. هو، کله چې موږ په بلوچستان کې واک ترلاسه کړو، نو له ټولو ډلو سره به د تفاهم له لارې ستونزې حل کړو. ان شاءاللّٰه تعالی.

پنځلسمه پوښتنه: لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده، د آرمي پبلک سکول (اې پي ایس) پېښو پېښه، چې هغه مهال د تحریک طالبان پاکستان مشرانو یې مسؤلیت منلی و، د پاکستان ولس د تحریک طالبان پر وړاندې ودرولو. د وروستیو کلونو راهیسې، تحریک طالبان پاکستان ځان له دې او ورته نورو پېښو لرې ساتلی دی. آیا تحریک طالبان پاکستان د هغو مشرانو غندنه کوي چې د (اې پي ایس) برید یې امر کړی و؟ او متاثره کورنیو ته به عدالت څنګه او کله برابر شي؟

ځواب: تحریک طالبان پاکستان له لومړۍ ورځې څخه خپل اهداف روښانه کړي دي، چې زموږ جګړه یوازې د ظالمو امنیتي ادارو پر ضد ده. د (اې پي ایس) پېښه د پخواني مشرتابه پر مهال رامنځته شوې وه، او موږ څو ځله غوښتنه کړې چې باید د دې پېښې شفافه پلټنه وشي، څو حقیقت برښند شي او معلومه شي چې ماشومان چا وژلي دي؟

مدثر اقبال، چې په دې پوځي عملیاتو کې یې برخه اخیستې وه، خپل وضاحتي بیان ثبت کړی، چې پکې واضح وایي، ماشومان د پوځي عملیاتو د قومندان، مېجر جواد، د امر پر بنسټ وژل شوي وو، ترڅو له دې موقعې ګټه پورته کړي او مجاهدین بدنام کړي. نو د (اې پي ایس) د مظلومو ماشومانو کورنیو ته د انصاف برابرول د دولتي جنایتکارانو مسؤلیت دی، نه د تحریک طالبان پاکستان.

شپاړسمه پوښتنه: د کشمیر د مسئلې، په ځانګړي ډول د کشمیر د وسلهوال مقاومت په اړه، تحریک طالبان پاکستان څه دریځ لري؟ موږ د تحریک طالبان پاکستان په بیاناتو کې لیدلي چې دغه تحریک کومه بهرنۍ اجنډا نه لري او یوازې د پاکستان دننه تمرکز کوي. خو د پاکستان عام ولس کشمیر د خپلې اساسي مسئلې په توګه ګڼي. تحریک طالبان پاکستان د کشمیر مسئلې ته څنګه ګوري؟

ځواب: د کشمیر مسئله د وخت له تېرېدو سره لا پېچلې شوې ده، او د دې مسئلې په سر سوداګرۍ او معاملې د هیڅ ډول ګټه پېښې نه دي.

دا یو څرګند حقیقت دی چې تحریک طالبان پاکستان هیڅ کومه بهرنۍ اجنډا نه لري. البته، د کشمیر مسئله د کشمیري ولس د اختیار مسئله ده، او زموږ د حاکمیت وروسته به د کشمیري قوم په خوښه او تفاهم سره د دې ستونزې د حل لاره غوره شي.

اوولسمه پوښتنه: که هند پر پاکستان یرغل وکړي، نو په داسې حالت کې تحریک طالبان پاکستان څه دریځ لري؟

ځواب: د هند او پاکستان ترمنځ چې څومره اختلافات او شخړې دي، دا د دواړو هېوادونو د ځینو خودغرضو عناصرو له لوري د نړیوالو قوتونو د اهدافو لپاره رامنځته شوي دي. دا ستونزې د دواړو ملتونو او عامو خلکو ترمنځ هیڅ اصلي تړاو نه لري.

په دغو اختلافاتو او جګړو کې د قربانۍ ښکار وي تل عام ولس، په ځانګړې ډول مسلمانان، ګرځېدلي دي. موږ د دواړو هېوادونو د هغو اقداماتو ملاتړ نه کوو چې د خپلو سیاسي او اقتصادي ګټو لپاره پر عام ولس ظلم وکړي.

پایله:

لکه څنګه چې پاکستان د حاکمیت، امنیت او نظریاتي اختلافاتو له سترو ازموینو تېرېږي، تحریک طالبان پاکستان او ورته ډلې د بحث مهم موضوع ګرځېدلي دي. ځینې خلک دا د ریاستي پالیسۍ پر ضد د یوه مشروع مقاومت په توګه ویني، خو ځینې یې د طریقې او راتلونکې لیدلوري ته پوښتنې لري. دا مرکه د تحریک طالبان پاکستان دریځ مستقیماً خلکو ته وړاندې کوي، ترڅو هغوی پخپله د دوی ادعاوې او نیتونه وارزوي. په پای کې، دا د پاکستان د ولس پرېکړه ده چې وګوري، څوک د دوی ملي او اسلامي ګټو ته ژمن دي او کومه لاره هېواد ته ثبات او عدل راوستلی شي.



پاکستان او اسرائیل: پټې معاملې، ښکاره دوکه!

لیکوال: عبدالله کاکړ



د فلسطین له اشغال راهیسې، د اسراییلي وحشي رژیم ظلمونه د نړۍ پر مخ هیڅوک نشي انکارولی. د غزې مظلوم ولس هره ورځ د بمبارۍ، لوږې، محاصرې او نسلوژنې له ستر بحران سره مخ دی، خو له دې سره سره، تازه افشا شوي معلومات ښیي چې د اسلامي نړۍ ستر منافق، پاکستان، په پټه د اسراییلو ملاتړ کړی او هغوی ته یې وسلې انتقال کړې!

پاکستان – له دوکې ډک سیاست!

پاکستان له تېرو 75 کلونو راهیسې ځان د فلسطین د ملاتړ مدافع بولي، د قدس د آزادۍ شعارونه ورکوي، د اسراییلو خلاف خبرې کوي، خو حقیقت دا دی چې دا هېواد د خپلو سیاسي ګټو لپاره د امت له احساساتو ناوړه ګټه اخلي.

د انټرسیپټ په نوم یوې امریکایي څېړنیزې ادارې، چې د پټو اسنادو افشا کولو شهرت لري، په خپل وروستي راپور کې دا حقیقت بربنډ کړی. د دې راپور له مخې، پاکستان د (155ایم ایم) توپ مرمۍ د اسراییلو لاس ته رسولې دي. دا مرمۍ د پاکستان د نور خان هوایي اډې څخه د انګلستان د هوايي ځواک 5/ RRR6664 الوتکو په واسطه بحرین، عمان، قبرص ته لېږدول شوې، او له هغه ځایه بیا د اسراییلو نواتیم او بین ګوریون هوايي ډګرونو ته انتقال شوې دي.



پاکستان – د امریکا، (اي ایم ایف) او اسراییلو لاسپوڅی!

پاکستان، چې تل د امریکا، اي ایم ایف، او لویدیځو قدرتونو غلام پاتې شوی، د دې لپاره چې د اي ایم ایف پورونه ترلاسه کړي، اوس دومره ټیټ شوی چې د صهیونیستي رژیم قاتلانو ته یې وسلې برابرې کړي. دا عمل یوازې خیانت نه، بلکې د امت له مقدساتو سره ښکاره دوکه ده.

پاکستان به څه ډول د فلسطین د ملاتړ ادعا کوي، کله چې یې صهیونیستانو ته وسلې ورکړې؟
که دا معامله د پاکستان د پوځ، استخباراتو او حکومت له خوښې پرته شوې، نو ولې تر اوسه چوپ دي؟
آیا دا د پاکستان له خوا د اسراییلو د رسمي پیژندنې لپاره لومړی ګام دی؟

پاکستان د اسلامي نړۍ ستر منافق:

پاکستان د اسلامي امت لپاره یو ستر منافق هېواد ثابت شوی دی. د دې هېواد سیاسي، پوځي او استخباراتي مشران یوازې د خپلو ګټو لپاره د اسلام نوم کاروي، خو حقیقت دا دی چې دا هېواد هیڅکله د امت لپاره مخلص نه و.
پاکستان په افغانستان کې د جهاد پر ضد د امریکا تر ټولو وفادار ملګری و.
پاکستان د کشمیر د مجاهدینو پر ضد هند ته معلومات ورکړل.
پاکستان د افغانستان د اسلامي امارت سره خیانت وکړ، د امریکایانو لپاره یې جاسوسي وکړه، او لا هم د کفري نړۍ غلامي کوي.
پاکستان همدا اوس د خپل هېواد دننه د اسلامي شریعت ضد پالیسیو ته دوام ورکوي.
که پاکستان د فلسطین د مظلومو مسلمانانو پر ضد له صهیونیستانو سره معامله کړې وي، نو دا به د دې هېواد لپاره ستره رسوایي وي، ځکه چې د هغوی د "اسلامي ورورولۍ" ټولې ادعاوې به دروغ ثابتې شي.
د امت ځوانان باید نور د پاکستان په منافقانه سیاستونو دوکه نشي.
اسلامي هېوادونه باید پاکستان ته د دې خیانت سخت ځواب ورکړي.
د پاکستان د دې پټې معاملې اسناد باید نوري اسلامي نړۍ ته وړاندې شي، ترڅو حقیقت بربنډ شي.
آیا پاکستان د خپل اقتصاد د راژوندي کولو لپاره د امت سره خیانت ته تیار دی؟ که داسې وي، نو د دې هېواد منافقت باید نور هم افشا شي.

ګلستان، د ایف سي کمپ باندې برید

راپور د دین محمد اڅکزي لخوا

د جنورۍ په 27مه شپه شاوخوا 12 بجې، د تحریک طالبان پاکستان لخوا د پښین ولایت د قلعه عبدالله ولسوالۍ د ګلستان په سیمه کې د ایف سي کمپ باندې برید وشو، چې په ترڅ کې یې ګڼ شمېر ایف سي سرتېري مړه او ټپیان شول. داچې زموږ په سیمه کې خلک ژر ویده کېږي او یخ موسم هم و، نو د لومړۍ چاودنې غږ ډېر لیرې لیرې واورېدل شو. دا غږ ځکه هم عجیب و چې ګلستان د دولتي چارواکو لخوا په بشپړه توګه کلیر او امن سیمه ګڼل کېده.

د چاودنې وروسته د ډزو غږونه پیل شول، او په منځ کې یوه یوه کوچنۍ چاودنه هم اورېدله کېده. خلک یو په بل پسې د خپلو کورونو بامونو او چتونو ته پورته شول او ځینې بهر راوووتل، چې آخر څه روان دي؟ ځکه چې موږ لومړۍ دا کومه معمولي کاروائي ګڼلې وه، خو داسې نه وه. بلکې هر پنځلس یا لس ثانیې وروسته به د ډزو یا چاودنو غږ اورېدل کېده.

سبا سهار معلومه شوه چې دا د معمول په توګه د تحریک طالبان پاکستان یو استشهادي برید و، خو دا خبره نوې وه چې دا برید په ګلستان کې شوی و. ځکه چې د خیبرپښتونخوا اکثره او د بلوچستان ځینې سیمې د داسې حالاتو نه پوره خبرې دي او اوس خو د پنجاب یوه برخه هم تقریباً د دې سره آشنا شوې ده.

د رسنیو له خبرونو نه وروسته پوه شوم چې دا برید نه یوازې مونږ، بلکې پوځ هم مهم ګڼلی و. که تاسو د دې عملیاتو په اړه د میجر دانیال خبرې واورئ، نو هغه هم وایي چې برید تقریباً اته ساعته دوام وکړ. کله چې ما د هغه خبرې واورېدې، نو په یقین سره پېکې یو ډول مایوسي ښکاري، او بیا ځینې ساده لوحه پوځیان د کیمرې مخې ته ودرول چې د حوصلې بیانات یې ورکړل، نو زما دا احساس نور هم ډېر شو، چې شاید مورال یې یو څه ټیټ شوی وي.

زمونږ په سیمه کې خلکو د اېس جي او نورو مختلفو یونټونو د برید ځای ته تګ ولید، چې میجر دانیال هم په خپلو خبرو کې یادونه وکړه، چې د کمپ په دننه کې موجود سرتېري د برید په ځواب کې کافي نه وو، نو د دې لپاره بهر نه مختلف جګړه ییز یونټونه راوغوښتل شول.

داچې سیمه یو یا دوه ورځې د پوځ په کنټرول کې پاتې وه او هیڅوک ونه توانېدل چې له سیمې څخه تېر شي، خو د ایمبولانسونو تګ راتګ او وروسته له کمپ د ننه ژورنالیستانو خبرې څرګندوي چې د مړینې او ټپیانو شمېر هغومره نه ولکه څنګه چې پوځ ویلي وو، بلکه تر دې زیات و. په هر ځای کې پرتې وینې، د مرمیو نښې او په څو ځایونو کې په مرمیو سورې شوې پوځي ټوپۍ ولیدل شوې، چې دا د صفایي وروسته مناظر و. د سیمې د خلکو په وینا، پوځ ته د پام وړ زیان رسیدلی و، خو دقیق شمېر یې یوازې الله تعالی ته معلوم دی.ف

مرام

ګوره ګام په ګام، ياره بل خواته دې پام نــه شي
ورک درنه مقصد نه شي، ورک درنه مرام نه شي

! جار د تې تې پې ځوانه! خيــال کوه بيخي ځوانه
صف درنه ګنده نه شي، صف درنه بدنام نه شي

بيا ډېر په خوارو زارو جوړ شو دا ټوک ټوک تحريک
بيا مو رُخ بدل نه شي، بيــا مو بد انجام نه شي

ګوره کړېدلــي دي، ګوره ځورېدلــي دي
بيا درنه زهير ګــوره دغه مظلوم قام نه شي

څوک به درته څه وايي څوک بــه درته څه وايي
فکر دې خراب نه شــې، فکر درنه خام نه شي

ګرمــو غزاګانو کــې خپلــو دعاګانو کې
هېر درنه "عثمان " نه شي هير درنه "مرام" نه شي

عثمان

دشازلمو قدر

څنګه چې وجود کې وي دســـترګو دلېمو قدر
داسې دی امت کې دتحریک دشـــازلمو قدر

څوک چې ددې وران امت عظیمه اِعاده غواړي
ولې به تاریخ له ســـینې باســـي دهغو قدر

هاچې دایثارپه ســــترې لاره ځي مزل کوي
نه به کړي جِبران امت هېڅ وخت دهغو پلوقدر

دې مراوي امت ته یې حیثیت یاره همداسې دی
څنګه چې کړي ســـترې جل وهلی داوبو قدر

اوس یې دوښمن هم په غیرتونواعتراف کوي
ویاړ بولي ګیـــدړ دځان لپاره دزمـــرو قدر

غر ورســـره مینه کړي ګورګورې پرې مینې دي
ټولـــه کائنات کـــوي د دغو لېونـــو قدر

اوس حسیب اللّه داداللّه هم او آینده کې هم
حق دی په تاریخ کوي به زمـــوږ دمېړنو قدر

حسیب اللّه داداللّه

د تې تې پې زلمو

فتحه به راځي زلمـــو ، جار د تې تې پې زلمو
رنګ به خامخا راوړي، ستاســـو قرباني زلمو

ګورئ وار خطا نشئ ، ګورئ چې په شـــا نشئ
رب زمونږ ملګرى دى ، مرســـته مو کوي زلمو

دا تنګاکې پښې ستاسو ، دا د درد کیسې ستاسو
ما خفه کـــوي زلمو ،زړونه دردوي زلمو

دومره غریبۍکې چې ، دومره بې وسۍکې چې
تاســـو چې کوئ جهاد ، رب يې قبلوي زلمو

دا د تورو غرو ســـفر ډک له خطرو ســـفر
دا به مظلومانـــو ته زيرى به راوړي زلمو

کونډې یتیمان زمونـــږ واړه مظلومان زمونږ
خپلـــو دعاګانو کـــې تاســـو يادوي زلمو

څو چې وي ژوندى هاشم، ستاسو ليونى هاشم
تل خپلو شعرونه کې تاســـو به ستايي زلمو

هاشم سادات





دا خــاوره مجاهـــده ده

دا کاڼــي کــړي ګـــزار

تکبيـــر ، انفجـــار